د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت
د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام—WEERDP
۱۳۹۷ - وری

شمېره ۶۰

## پروګرام د کليوالو له‌منځه



## عبدالصمد، د شتمن‌کېدا پر لور!

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د ابتدايي وسايلو په چمتو کولو سره په هغو کليوالي سيمو کې د ډېرو خلکو ژوند جوړ کړی، چې د پروګرام تر پوښښ لاندې راغلي او هغوی يې د کړاو ډک ژوند څخه د ځان‌بساينې کچې ته رسولي‌دي.

د پروګرام له‌ديې ګټه‌اخيستونکيو څخه يو هم د کامې اوسېدونکی عبدالصمد دی، چې د پروګرام د مالي ملاتړ په نتيجه کې يې وکولی شول خپل ژوند ته نوې بڼه ورکړي. هغه د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ د ساده عبدالله‌جان د کلي اوسېدونکی دی او د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د »زمرد توليدي ګروپ «غړيتوب لري.

په ۲۰۱۱ ز کال کې يې د »زمرد توليدي ګروپ «د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام له‌خوا په دې کلي کې جوړ شو، چې د لاسي صنايعو او ګل‌دوزۍ په‌سکتور کې اوه غړي لري.

عبدالصمد له‌دې وړاندې د جامو ګنډلو کاروبار درلود او تل به يې فکر کاوه، چې څنګه کولای شي په لږ وخت کې ډېر توليدات ولري. وروسته له هغه چې نوموړی د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام له فعاليتونو خبر شو، تصميم يې ونيوه، چې د پور او سپما له ګروپ او بيا د هغو په نتيجه کې له »زمرد توليدي ګروپ «سره يو ځای شي، چې د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام له‌خوا د دوی په کلي کې جوړ شوی‌وو.

د »زمرد توليدي ګروپ «سره د غړيتوب په نتيجه کې، څه موده وروسته عبدالصمد وکولی شول، چې د پور او سپما له کليوالي اتحاديې څخه ۴۳ زره افغانۍ پور ترلاسه او په‌دې پيسو د جامو ګنډلو په سکتور کې د پيکو يوه پايه ماشين راونيسي، چې د ماشين په‌رانيولو سره د کامې ولسوالۍ د لنده بوچ په بازار کې نوی کاروبار پيل کړ.

د عبدالصمد کاروبار ورځ تر بلې ښه کېده او ورو ورو هغه د يوې روښانه راتلونکې لپاره کوښښونه پيل کړل. څه موده وروسته هغه د دې کاروبار له ترلاسه شوې ګټې څخه دوه نور ماشينونه راونيول او د کلي دوه بې‌وزله اوسېدونکي يې هم خپل تر څنګ په‌دنده وګمارل.

د وخت په تېرېدو د عبدالصمد کاروبار ښه رنګ پيدا او له عايداتو څخه يې وکولای شول، چې اخيستل شوي پورونه بېرته ورکړي او د شپږو مياشتو په موده کې سل‌زره افغانۍ هم وسپموي.

عبدالصمد هوډ لري چې خپل کاروبار د کامې له ولسوالۍ څخه د ننګرهار ولايت مرکز جلال آباد ښار ته را انتقال او په‌دې توګه خپلو توليداتو لپاره غوره او ستر بازار پيدا کړي.

هغه وايي: »**اوس زما اقتصادي حالت له پخوا څخه ډېر ښه شوی او کولای شم، چې د کورنۍ اړتياوو د پوره کولو ترڅنګ له يو شمېر نورو سره هم مرسته وکړم.**«

عبدالصمد د کليو بيارغونې او پارختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام له رهبرۍ څخه د هغوی د ارزښتناکه او موثره مرستو په ترسره کولو د زړه له کومې مننه او قدرداني کوي.

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام کليوالو هېوادوالو ته په اغېزمنه توګه د اقتصادي او ټولنيزه خدمتونو په وړاندې کولو سره وکولای شول، چې د خلکو ملاتړ ترلاسه او د دوی ژوند ته نوې بڼه ورکړي.

## د پروګرام په اړه:

د پروګرام موخه تر پوښښ لاندې کليو کې د ډېرو بې‌وزله مېرمنو ټولنيز او اقتصاد ژوند ته پياوړتيا ورکول دي، چې د هېواد په کليوالي سيمو کې ژوند کوي. دا پروګرام څلور اساسي برخې لري: ۱- د ټولنيزه بنسټونو انسجام او پرمختيا، ۲-مالي سرچينو ته لاسرسی، ۳-بازار ته د لاسرسي او تخنيکي برخو کې مرسته او ۴-پروژې مديريت.

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام به د افغانستان په ۳۴ ولايتونو، ۷۶ ولسوالۍ تر خپل پوښښ لاندې راولي او د ۵ کلونو په ترڅ کې به (۵۰۰،۰۰۰) ګټه اخيستونکي ولري، چې ۸۰٪ سلنه به يې کليوالي مېرمنې وي.

## د ټولنيزو بنسټونو د پرمختيا شعبه:

د ټولنيزو بنسټونو د پرمختيا شعبه د دغه برخه د پروګرام يوه اساسي برخه پرمخ‌وړي چې د همدې برخې پر بنسټ د پروګرام ټولې برخې پخپلو ځانګو کې کارونه پرمخوړي. د کليوالي مېرمنو لپاره د ورتياو د پياوړي کولو لپاره د باثباته ټولنيزه بنسټونو د تشکيل لپاره کار او فعاليت کول يو لازمي امر دی چې دا کار د کليوالي مېرمنو د اقتصادي پياوړتيا لپاره لومړنی اقدام ګڼل کيږي.

## د بريا کيسې لنډيز:

ښاغلی صمد د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د سپما يو ګروپ کې غړيتوب کې ترلاسه کړ، ښاغلي صمد د هغه پور په وسيله چې د پور او سپما له کليوالي اتحاديو څخه يې ترلاسه کړی وو، وکولای شول چې د خپل د خياطۍ لپاره د پيکو يوه پايه ماشين واخلي، چې د کاروبار د ښه کېدا په نتيجه کې د ترلاسه شوي عايداتو وسيله يې وکولای شول اخيستل شوی پور بېرته ورکړی او داسې يو کوچنی خپل کاروبار ځانته په لار واچوي. خپل کاروبار ته اوس د ښاغلي صمد هيلې لا پسې غوړېدلې دي، هغه غواړي چې د خپل کاروبار لن د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ څخه د دې ولايت مرکزي ښار، جلال‌اباد ته وغځوي.

## پوښښ:





@weerdpofficial
@officialweerdp
www.weerdp-mrrd.gov.af